2 017550 139621


# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۲۵مه | د ۲۰۱۹ د مې ۱۵مه | دريیم کال| ۳۷۴یمه گڼه


کتاب


۴ مخ

## د سړکونو انجنيري




دغه کتاب ټولټال د لسو څپرکو په درلودو سره، په ۳۴۲ مخونو کې لیکل شوی دی، د کتاب تر ټولو ښه ځانګړنه دا ده، چې د لیکوال تجربې ورسره مل دي.

## په تخار او وردګو کې د ۱،۹ میلیاردو افغانیو په لګښت سړک رغول کېږي



ترانسپورټ وزارت د ۱.۹ میلیاردو افغانیو په لګښت په تخار کې د ۵۰ کیلومتره سړک د جوړولو او له میدان وردګو تر غزني د ۴۰ کیلومتره سړک د بیارغولو هوکړه لیکونه لاسلیک کړي دي.
د ترانسپورټ وزارت سرپرست یما یاري د یادو هوکړه لیکونو د لاسلیک پر مهال ویلي، د تخار ولایت له ینګي کلا ولسوالۍ څخه تر چاه‌اب ولسوالۍ د شاوخوا ۲۷ کیلومتره سړک جوړول او د دغه ولایت له خواجه بهاءالدین ولسوالۍ څخه د ای خانم بندر تر مسیره د ۲۲،۷ کیلومتره سړک جوړول شامل دي.
دغه راز نوموړي ویلي، د کابل ـ کندهار پر لویه لار د میدان وردګو ولایت له سیداباد ولسوالۍ څخه تر غزني ولایته د ۳۰۱ میلیونو افغانیو په لګښت د ۴۰ کیلومتره سړک د بیارغونې او مراقبت قرارداد هم لاسلیک شوی دی.
نوموړي زیاته کړې، د پروژې چارې په یوه کال کې بشپړېږي او لګښت یې د اسیا پراختیایي بانګ له خوا ورکول کېږي.

## مشرانو جرگه: مسؤلان امنیتی در تأمین امنیت ناکام اند و باید استعفا بدهند



برخی اعضای مشرانو جرگه، ضمن نگرانی از شایعاتی مبنی بر حضور رهبر داعش در افغانستان، در اعتراض به حاضر نشدن مسؤلان امنیتی به این جرگه، آنها را ناکام خوانده و خواستار برکناری آنان شدند.
مشرانو جرگه، دیروز اسدالله خالد سرپرست وزارت دفاع ملی، مسعود اندرابی سرپرست وزارت داخله و محمدمعصوم ستانکزی رئیس عمومی امنیت ملی را فرا خوانده بودند تا در مورد وضعیت امنیتی معلومات دهند؛ اما وزارت دولت در امور پارلمانی با ارسال مکتوبی گفته است که مسؤلان امنیتی، بنا بر مصروفیت‌ها نمی توانند در این نشست جرگه حضور پیدا کنند.
این موضوع، خشم نماینده گان مردم را برانگیخت. گلالی اکبری نماینده مردم بدخشان در این جرگه گفته است: «نیامدن مسؤلان امنیتی نشان داد که آنها چیزی برای گفتن ندارند، حضور نیافتن آنها فرار از قانون است».
در عین حال محمد عظیم قویاش نماینده مردم جوزجان در این جرگه گفته است که مسؤلان امنیتی به دلیلی در این نشست جرگه حضور نیافتند که در تأمین امنیت شهروندان ضعیف و ناتوان هستند و چیزی برای گفتن ندارند.
وی از رئیس جمهور خواست تا مسؤلان امنیتی را برکنار کند؛ زیرا به گفته او آنها در تأمین امنیت ناکام شده اند.
قیس وکیلی نماینده مردم بامیان در این جرگه نیز مسؤلان امنیتی را ناکام خوانده و خواستار برکناری آنها شد.

# د نوماندانو شورا: د غبرګولي په لومړۍ نېټه دې ولسمشر غني واک پرېږدي



۳

د جوزا لومړۍ او د واک د ناقانونه دوام ربړه

۲ مخ

امریکا او ایران واقعاً جنګ ته نږدې شوي؟

۲ مخ

ځینې رایجې تېروتنې مو اصلاح کړئ!

۵ مخ


## د افغانستان لپاره د چین ځانګړي استازي له ایراني چارواکو سره د افغان سولې په اړه خبرې کړې دي

چینایي او ایراني چارواکو په تهران کې د لیدنې پر مهال، له افغان سولې پروسې د ملاتړ ژمنه کړې ده.
د ایران د دولتي خبري اژانس ایرنا د راپور له مخې، د افغانستان لپاره د چین ځانګړي استازي دینګ جونګ په تهران کې د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال عباس عراقچي سره لیدلي او د نورو مهمو مسایلو ترڅنګ یې د افغان سولې په اړه هم ورسره خبرې کړې دي.
سرچینې زیاته کړې چې دواړو لورو د افغانستان پر وروستیو امنیتي، سیاسي حالاتو او د سولې پروسې په اړه خبرې کړې دي.
په راپور کې راغلي چې دغه راز دواړو لورو د افغانستان ناامني او بې ثباتي د ټولې سیمې لپاره ګواښ بللی دی او په افغان سوله کې یې د خپل لوري د همکاریو ډاډ ورکړی دی.
دغه راز د ایران د بهرنیو چارو مرستیال وزیر عباس عراقچي، د افغانستان د تلپاتې سولې لپاره د سیمې هېوادونو پر رول ټینګار کړی دی.
د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د افغان سولې لپاره د سیمه ییزې اجماع رامنځته کولو هلې ځلې زیاتې شوې دي، چې پر دوام یې د چین ځانګړي استازي څو ورځې مخکې هندوستان ته هم سفر وکړ او د افغان سولې په اړه یې ورسره خبرې وکړې.
بلخوا د افغانستان د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس او د ولسمشر ځانګړی استازی عمر داوودزی هم په همدې موخه جرمني ته تللی او د دغه هېواد له چارواکو سره تر خبرو وروسته به هند ته ولاړ شي او له هندي چارواکو سره به په دې تړاو خبرې وکړي.

## طالبان لاهم له افغان حکومت سره د خبرو لپاره لېوال نه دي



۲ مخ

## دريـــځ

### د جوزا لومړۍ او د واک د ناقانونه دوام ربړه

د ولسمشرۍ کانديدانو شورا يو ځل بيا ويلي، چې ولسمشر غني بايد واک يا ولسمشرۍ ته کانديدي پرېږدي او يا دې هم واک سرپرست حکومت ته پرېږدي. دوی د اساسي قانون پر ٦١مه ماده استناد کوي او وايي چې د ولسمشر وخت پوره دی او کار يې ناقانونه دی. دغه شورا چې پکې ۱۲ کانديدان را ټول شوي وايي، که ښاغلی غني د اساسي قانون خلاف کار ته دوام ورکړي، دوی به د يوې اجماع له مخې د دولت د سرپرست د ټاکلو تکل وکړي. دوی وايي چې يوه شورا به جوړېږي او د هغې شورا له خوا به د سرپرست حکومت مشر ټاکل کېږي. ارگ بيا وايي چې سرپرست حکومت د اساسي قانون خلاف دی او په دې ډول دا غوښتنه هم ردوي. دوی وايي چې ولسمشر به د نوي ولسمشر تر ټاکل کېدو پورې خپل کار ته دوام ورکوي.

د اساسي قانون له مخې د ولسمشر وخت پوره دی او پر قانون يې استدلال هم ناسم او د اساسي قانون او ولسوالۍ خلاف دی. ځکه ولسمشر د يوې ټاکلې مودې لپاره انتخابېږي او کله يې چې وخت پوره شي، نو بايد نوي ولسمشر ته واک پرېږدي. اوس نوی ولسمشر نشته او لامل يې هم دا دی چې ولسمشر او حکومت يې بې کفايته دی او ونه توانېد چې سم ټاکنيز کمېسيونونه وټاکي او ټاکنې په خپل وخت وکړي. اوس چې د دوی د بې کفايتۍ له امله نوی ولسمشر نه دی ټاکل شوی، نو پړه يې پر ارگ ده. که ارگ همداسې ټاکنې نه کوي او ځنډوي يې او غواړي خپل واک وغځوي، نو دا بيا په هېڅ ډول قانوني نه ده او پکار ده چې مخه يې ونيول شي.

اوس د کانديدانو غوښتنه او د هغوی له خوا وړاندې شوی بديل هم قانوني نه دی، خو مانا يې دا نه ده چې ولسمشر غني دې د جوزا له لومړۍ نېټې وروسته، همداسې واک ته دوام ورکړي. ولسمشر د جوزا له لومړۍ نېټې وروسته د يوې ورځې لپاره هم په واک کې د پاتې کېدو حق نه لري. دا چې نوی ولسمشر نشته او موږ له يوې قانوني ستونزې سره مخ يو، پکار ده چې دې ستونزې ته حل پيدا شي. دا حل بايد داسې نه وي چې د کانديدانو شورا يې وايي، خو داسې هم بايد نه وي، لکه ارگ يې چې وايي. پکار ده چې يوه منځنۍ حللاره پيدا شي. د دې لپاره چې دا منځنۍ لاره هم عملي وي او هم قانوني، نو پکار ده چې اساسي قانون او د افغانستان حالاتو ته په کتو سره، دا لاره وټاکل شي. د دې لارې لپاره لومړی بايد ارگ ومني چې د ولسمشر وخت پوره دی او په قانوني ډول حق نه لري چې ولسمشر وي. اوس چې قانون د داسې حالت لپاره بله لاره نه ده ښودلې، نو بايد د افغانستان حالت ته په کتو سره يو سياسي حل را پيدا شي. په سياسي حل کې بايد ولسمشر واک ته دوام ورکړي، خو بايد روښانه کړي چې ټاکنې به په اعلان شوې نېټه کوي. له بله اړخه د دې لپاره چې د ټاکنو د ځنډ لامل خپله ولسمشر دی، نو بايد په تأديبي ډول يې ځينې واکونه او صلاحيتونه کم شي او په دې ډول دا ستونزه حل شي.



# امريکا او ايران واقعاً جنگ ته نږدې شوي؟

ليکنه: شفيق همدرد

په ايران کې تر انقلاب يا د اخوندانو تر واکمنېدو وړاندې، شاهي رژيم په سيمه کې د امريکا ستراتيژيک ملگری او همکار و، خو د ۱۹۷۹ ز کال تر انقلاب يا د رژيم تر بدلون وروسته، د دواړو هېوادونو اړيکې تر نن پورې سړې او غير حسنه دي.

خو ايران چې پر نړيوال سټېج کوم ځای ته رسېدلی دی، په دې کې هم لوی لاس د امريکا دی. هغه مهال چې په ايران کې اخوندانو د خميني په مشرۍ پاڅون وکړ او رضا شاه پهلوي يې له ملکه و ايست، په همدغه وخت کې يې د امريکا لسگونه ډيپلوماټان چې په تهران کې د امريکا په سفارت کې وو، د ۴۴۴ ورځو لپاره يرغمل کړل. امريکا ډېر اسانه کولی شوی چې دغه ډيپلوماټان يا له سياسي يا هم له نظامي لارې را خوشې کړي؛ ځکه د ايران حکومت هغه مهال په داسې قوت کې نه و، چې له امريکا سره دې مقابله وکړای شي. دغه موقع په لوی لاس امريکا ايران ته ورکړه، څو ايران د يوه نوي قدرت په بڼه په منځني ختيځ کې را وټوکېږي.

د امريکا نظامي، سياسي او اقتصادي دوکتورينو د يوې لويې او اوږدې ستراتيژۍ له مخې، په دغه سيمه کې داسې يوه قدرت ته اړتيا لرله، چې د سيمې نور هېوادونه پرې و وېروي. د امريکا ولسمشرانو جمي کارټر، ريگن، لوی بوش، بيل کلنټن، جورج ډبليو بوش او اوباما د همدغو دوکتورينو د مشورو او پاليسيو په رڼا کې له ايران سره چلند کاوه .

امريکا له هماغه پيله د ايران اخوندي نظام له منځه وړای شوی؛ خو برعکس همدغو دواړو هېوادونو په همدې موده کې غير مستقيم يو بل ته بې ساري گټه رسولې. د بېلگې په توگه، د ايران او عراق په جنگ کې ډېر کوښښ د امريکا دا و، چې په سيمه کې جنگ وي، نو ځکه يې دواړه هېوادونه هڅول چې جنگ اوږد کړي. گنې صدام د امريکا په هڅه او تشويق جنگ پيل کړی و، خو امريکا ور سره ياري ونه کړه. د طالبانو او صدام حسين د حکومتونو په نسکورولو کې تر بل هر چا دغه گاونډي هېواد له امريکا سره ډېره همکاري وکړه او حتی په عراق کې خو يې خپلې پاللي ملېشې ماموري کړې، چې له امريکايانو سره په گډه د صدام حکومت را نسکور کړي.

**امريکا ولې ايران تر دې بريده غوړېدا ته پرېښود؟**

تر دويم نړيوال جنگ وړاندې، په سعودي عربستان کې د تيلو د زېرمو تر پيدا کېدو وروسته، امريکا دې ته اړتيا لرله چې په ټيټه بيه او ښه کيفيت تيل تر لاسه کړي. د دغو تيلو د را ايستلو پر سر يې لومړی مقابله له برېټانيا سره وه. تر هغې وروسته د عربستان ځينو کارونو او نازونو امريکا دېته اړ کړه، چې په سيمه کې د فرضي دښمن د رامنځ ته کولو او قوي کولو طرحه او ستراتيژي تطبيق کړي. لومړی يې دا کار په سيمه کې د اسرائيلو په رامنځ ته کولو سره تر سره کړ، خو وروسته متوجې شول چې د دغه کار لپاره ايران ښه بديل دی. بله موضوع د اسرائيلو ده. د دويم نړيوال جنگ پر مهال او تر هغې مخکې په ميليونونو يهودان په اروپا او ځينو نورو سيمو کې ووژل شول. يهودانو غوښتل چې د ځان لپاره يو هېواد او ځمکه ولري. همدا وو چې امريکا او برېټانيا ورته د فلسطينيانو په ځمکه کې يو خپلواک هېواد رامنځ ته کړ. عربي هېوادونو په هغو لومړيو کې ډېر کوښښ وکړ، چې اسرائيلو ته ستونزې جوړې کړي. په ۱۹٦۷ ز کال کې د عربو او اسرائيلو شپږ ورځنی جنگ ټول عرب مات کړل، چې په پايله کې يې يوه بل قدرت په سيمه کې سر را پورته کړ. په همدې وخت کې د ايران را څرگندېدل د يوه قدرت او د اسرائيلو د اصلي دښمن په توگه يهودان وارخطا کړل. امريکايي سياستوالو او چارواکو همدا غوښتل، چې اسرائيل د عربي هېوادونو لپاره د فرضي دښمن او ايران بيا اسرائيلو او ټولې سيمې ته د واقعي دښمن په توگه رامنځ ته کړي. که څه هم په نړيوالو اړيکو کې د هېوادونو ترمنځ د قدرت توازن (Balance Of Power) يو اصل دی، خو امريکا او چارواکو يې له دغه اصل او تيورۍ څخه هم د ځان لپاره گټه پورته کړه. ځکه يهود په امريکا کې لوی پانگه اچوونکي، سوداگر او پيسه دار خلک دي. له تېرو ۴۰ کلونو راپدېخوا په هرو پنځو کلونو کې د امريکا د ډيموکراټانو او جمهوري خواهانو لپاره د اسرائيلو او ايران موضوع له مهمو ولسمشريزو کمپايني موضوعاتو څخه ده. د يادې موضوع په طرحه کولو سره، امريکايي سياستوال له يهودو ميليونونه ډالره اخلي او په خپل کمپاين کې يې لگوي.

**خو دا هرڅه ولې د ټرمپ په حکومت کې سرچپه شول؟**

د اوباما اداري څو کاله له ايران سره د اروپايي ټولنې په ملتيا او منځگړيتوب خبرې وکړې، چې ايران اټومي وسلو ته له لاسرسي څخه را وگرځوي او په ترڅ کې يې د پر ايران نړيوال بنديزونه راکم شي. امريکا هغه اوږدمهاله او ستراتيژيکه پاليسي چې پخوا يې درلوده، تعقيبوله او نه يې غوښتل چې ايران په سيمه کې ډېر کمزوری شي. په همدې موخه په ۲۰۱۵ ز کال کې د امريکا، اروپا او ايران ترمنځ د برجام په نامه تړون لاسليک شو، چې له مخې يې ايران د يورانيمو د غني کولو بهير راټيټ کړ او په مقابل کې يې ټول بنديزونه له ايرانه پورته کېدل. خو کله چې ټرمپ واک تر لاسه کړ او هغه ژمنه يې چې د کمپاين پر مهال په امريکا کې له مېشتو يهودو او اسرائيلي چارواکو سره کړې وه، چې د برياليتوب پر مهال به د برجام له تړون څخه وځي، په تېر ۲۰۱۸ ز کال کې عملي او له برجام تړون څخه ووت. په ترڅ کې يې په ايران خورا درانه او هر اړخيز بنديزونه ولگول. امريکا وايي چې ايران نړۍ ته دروغ وايي. ټرمپ بار بار دا خبره کوله چې ايران په پټه د يورانيمو غني کولو ته ملا تړلې. د اسرائيلو لومړي وزير بين يامين يتن ياهو څو مياشتې وړاندې په يوه بې ساري خبري کنفرانس کې سلگونه داسې دوسيې او اسناد واړندې کړل، چې گواکې ايران غواړي اټومي وسلې تر لاسه کړي.

بله مهمه موضوع چې امريکا يې په بدل کې پر ايران فشار راوړي، دا ده چې ايران تر هغې ټاکلې کچې، چې امريکا په نظر کې ورته نيولې وه، ډېر مخ ته لاړ. امريکا دا غوښتل چې د نورو هېوادونو لپاره يو فرضي دښمن اړين دی، خو ايران له راغوړېدلې روسيې سره په گډه په نړۍ کې د امريکا گټو ته گواښ پېښ کړی دی. په افغانستان، عراق، سوريه، يمن، بحرين، لبنان او حتی وينزويلا کې ايران توانېدلی، چې امريکا ته دردسر شي او گټې يې و ننگوي. اوس امريکا غواړي ايران ببرته پخواني حالت ته ور وگرځوي. په همدې خاطر، امريکا د ايران سپاهپاسداران په تور ليست کې ور گډ کړ، د ايران په تيلو، بانکي راکړې ورکړې، فلزاتو او نږدې ټولو صادراتو يې بنديزونه ولگول.

**تازه پېښې او راتلونکی!**

امريکا له ايران سره د شوي تړون (برجام) تر لغوه کولو وروسته، پر ايران تازه بنديزونه ولگول، په ځواب کې يې ايران گواښ وکړ، چې د يورانيمو غني کول به لوړې کچې ته ورسوي. په همدې منځ کې امريکا اعلان وکړ، چې ايران په سيمه کې د امريکا گټو ته د گواښ پېښولو تابيا نيولې ده. د امريکا د بهرنيو چارو وزير عراق او ځينو نورو هېوادونو ته سفر وکړ او ايران ته يې گواښ وکړ، چې که پر امريکايي گټو بريد وشو؛ ځواب به يې ورکړي. په همدې لړ کې امريکا سيمې ته دوې جنگي بېړۍ او څلور B۵۲ الوتکې ولېږلې. دا ستونزه هغه وخت لا نوره ډېره او پېچلې شوه، چې هرموز تنگي ته څېرمه، د تيلو پر څلور بېړيو بريد وشو . امريکا ايران تورن کړ چې دا بريد يې تر سره کړی دی، خو ايران دا يوه توطيه او د جنگ لپاره يې يوه بهانه وگڼله. همدا راز تېره پنجشنې د امريکا دفاعي سلاکارانو ټرمپ ته مشوره ورکړې، چې که ايران په سيمه کې د امريکا پر گټو يا د امريکا پر متحدينو بريد وکړي، منځني ختيځ ته دې ۱۲۰ زره امريکايي سرتېري ولېږي.

**آيا جنگ به رامنځ ته شي؟**

مخکې مو وويل چې امريکا يوازې ايران لارې ته راوستل غواړي. امريکا غواړي چې ايران په سيمه کې د هغو ترهگرو له ملاتړ څخه لاس واخلي، چې د امريکا گټو ته زيان اړوي. امريکا غواړي چې ايران اټومي وسلې ترلاسه نه کړي، ځکه هغه وخت به يې بيا کنټرول ناممکن وي. خو امريکا کله هم نه غواړي چې پر ايران نظامي بريد وکړي، ځکه امريکا همهاله په افغانستان، وينزويلا، شمالي کوريا او منځني ختيځ کې ښکېله ده. په ايران کې ښکېلېدل به يې په نورو سيمو کې گټې له گواښ سره مخ کړي. بل ايران د نورو هېوادونو په څېر کمزوری نه دی، ايران په سيمه کې پر يوه واقعي طاقت بدل شوی دی. نو هغسې چې صدام حسين يا طالبان امريکايانو له واکه لرې کړل، د ايران رژيم به ورته ستونزمن وي. په دې خبره هم ايران او هم امريکا پوه ده او ايران هم پوه دی، چې له امريکا سره دوامداره مبارزه او نظامي مقابله به يې د خاورو څلې کړي. دواړه هېوادونه به په سيمه کې د قدرت نمايش، د ټاکنو د کمپاين لپاره غوره شعارونه او د سيمې پر هېوادونو به د فشار په توگه څو ورځې حتی څو مياشتې تبليغات وکړي، چې خبرو ته کېناستل به ببرته هرڅه سم کړي.

## د روغتيا نړيوال سازمان: په تېرو څلورو مياشتو کې په افغانستان کې ۹۹ روغتيايي مرکزونه تړل شوي دي

د روغتيا نړيوال سازمان ويلي، د روان ۲۰۱۹ ز کال په لومړيو څلورو مياشتو کې په افغانستان کې پر روغتيايي تاسيساتو د بريدونو ۵۱ پېښې يې ثبت کړې دي.

دغه سازمان په يو بيان کې ويلي، چې دغه پېښې د جگړې د ښکېلو خواوو له خوا د ۱٦ ولايتونو په ۳۸ ولسواليو کې رامنځته شوې دي.

بيان زياتوي چې د دغو بريدونو له امله ۱۱۴ روغتيايي مرکزونه زيانمن شوي، چې له ډلې يې درې مرکزونه په بشپړه توگه ويجاړ شوي، ۱۲ اغېزمن شوي او ۹۹ نور تړل شوي دي.

دغه سازمان همدارنگه زياته کړې چې په دې موده کې ۲۸ روغتياپالان هم زيانمن شوي، چې له ډلې يې ۱۱ تنه وژل شوي، ۱۰ ټپي شوي او ۷ نور نيول شوي دي.

د روغتيا نړيوال سازمان دغه راز ويلي، چې پر روغتيايي تاسيساتو تر ټولو زيات بريدونه د روان ۲۰۱۹ ز کال په لومړيو څلورو مياشتو کې تر سره شوي، چې له امله يې ډېر افغانان له روغتيايي خدمتونو څخه بې برخې شوي دي.




دغه سازمان په داسې وخت کې پر روغتيايي تاسيساتو د بريدونو د زياتېدو خبر ورکوي، چې د نورستان چارواکو تېره جمعه په دغه ولايت کې د طالبانو لخوا د ۱۲ روغتيايي مرکزونو د تړل کېدو خبر ورکړ.

ياد سازمان د جگړې د ښکېلو خواوو له خوا د روغتيايي تاسيساتو په نښه کول، له نړيوالو قوانينو څخه سرغړونه بللې او له هغوی څخه يې غوښتي چې ياد مرکزونه خپل هدف ونه گرځوي.

بل خوا د عامې روغتيا وزارت وياند وحيدالله مايار په دې اړه له څه ويلو ډډه کړې ده.

پر همدې مهال په افغانستان کې د بشردوستانه ژغورنې پرمختيايي موسسې مشر ډاکټر فيض‌محمد عاطف امريکا غږ ته ويلي، چې رواني جگړې په لرې پرتو سيمو کې روغتيايي فعاليتونه له ستونزو سره مخ کړي دي.

هغه ويلي: «دا څه رښتيا دي، جگړو اوس بيا زور اخيستی دی، لکه کندوز، اروزگان، هلمند او غزني کې. تېر کال د مقر او قره‌باغ شفاخانې په راکټونو ولگېدې، موږ هم د روغتيا نړيوال سازمان خبر تاييدوو، چې دا ستونزې روغتياپالانو ته هم زياتې دي او عامو وگړو ته زموږ د خدماتو رسول هم زيانمنوي». نوموړي د جگړې له ټولو ښکېلو غاړو څخه غوښتي، چې روغتيايي تاسيسات خپل هدف ونه گرځوي.

په افغانستان کې پر روغتيايي مرکزونو د بريدونو د زياتېدو راپور، په داسې مهال کې ورکول کېږي چې لا هم ډېری افغانان له معياري روغتيايي اسانتياوو څخه بې برخې دي.

## د نوماندانو شورا: د غبرگولي په لومړۍ نېټه دې ولسمشر غني واک پرېږدي



سره له دې چې د غبرگولي لومړۍ نېټې ته د گوتو په شمېر ورځې پاتې دي، خو ولسمشريزو ټاکنو ته نوماندان وايي چې تر يادې نېټې وروسته د ولسمشر غني د کار دوام د قانون خلاف دی. د ولسمشريزو ټاکنو ۱۲نوماندانو چې د ولسمشريزو ټاکنو د نوماندانو شورا يې جوړه کړې، ويلي چې تر نوي ولسمشر پورې بايد يو موقت ولسمشر حکومت اداره کړي. دغه شورا پرون په يوه خبري غونډه کې يوه طرحه وړاندې کړې چې له مخې يې بايد يو بل کس په موقته توگه اوسنی سياسي نظام اداره کړي.

د ولسمشرۍ نوماندانو شورا پرون په خپله خبري غونډه کې له ولسمشر محمد اشرف غني دا هم وغوښتل چې د جوزا (غبرگولي) په لومړۍ نېټه واک پرېږدي او د هېواد چارې يوه سرپرست ولسمشر ته وسپاري.

د ولسمشرۍ ۱۲ نوماندان چې د يوې شورا په چتر کې سره راټول شوي وايي، که محمد اشرف غني غواړي د غبرگولي له لومړۍ نېټې وروسته هم د دولت سرپرست پاتې شي، نو بايد د راتلونکو ټاکنو له نوماندۍ لاس په سر شي.

نوماندان وايي، د ولسمشر د کار دوام د غبرگولي تر لومړۍ نېټې وروسته د قانون خلاف دی او په خبره يې که ولسمشر د اساسي قانون خلاف خپل کار ته دوام ورکړي، دوی به د يوې اجماع له مخې د دولت د سرپرست د ټاکلو تکل وکړي. دوی وايي، له گوندونو، نوماندانو، علماوو او ملي شورا، د اساسي قانون پر تطبيق د څار او بشري حقونو کمېسيونونو، مدني ټولنو، ښځو او حقوقپوهانو له شبکو يوه جوړه شوې اجماع به د دولت د سرپرست ټاکلو ته متې راونغاړي.

د اساسي قانون پر بنسټ، د ولسمشر دنده د پنځم کال د غبرگولي يا جوزا په لومړۍ نېټه، تر ولسمشريزو ټاکنو وروسته پای ته رسېږي. د افغانستان اساسي قانون همدا راز وايي، ولسمشريزې ټاکنې بايد د ولسمشر د دندې تر پای ته رسېدو ۳۰ يا ٦۰ ورځې مخکې ترسره شوې وی، خو حکومت د ستونزو او فساد له امله بريالی نه شو چې ولسمشريزې ټاکنې پر خپل وخت ترسره کړي، له دې امله سترې محکمې د ولسمشر غني د کار دوام د راتلونکي ولسمشر تر راتگ پورې غځولی دی.

د ولسمشريزو ټاکنو نوماندان بيا وايي چې سترې محکمې د قانون خلاف کار کړی او ولسمشر غني ته نه ده پکار چې د کار په دوام سره يې په هېواد کې نوو ستونزو ته لمن ووهي. د ولسمشريزو ټاکنو نوماندان او د نوماندانو د شورا غړي، حنيف اتمر وويل، چې که ولسمشر په غير قانوني توگه خپلې دندې ته ادامه ورکوي، نو په هېواد کې به نوې ستونزې را ولاړې کړي.

بل پلو ارگ بيا د نوماندانو پر دغه څرگندونو غبرگون ښودلی دی. د ولسمشر يوه وياند شاه حسين مرتضوي نوماندانو ته د اساسي قانون د لوستلو سپارښتنه کړې ده. بل وياند يې هارون چخانسوري بيا ويلي چې د اساسي قانون تفسير د سترې محکمې صلاحيت دی او د افغانستان سترې محکمې د هېواد حالاتو او وضعيت ته په کتو دا پرېکړه کړې چې ولسمشر غني به د نوي ولسمشر تر راتگ پورې خپلې دندې ته ادامه ورکوي. د چخانسوري په خبره، د سرپرست ولسمشر ټاکل او يا دې ته ورته د کوم جوړښت رامنځته کول د اساسي قانون خلاف عمل دی او په خبره يې هر څوک په خپله خوښه او د خپلو گټو لپاره اساسي قانون نه شي تفسيرولی. نومړي د نوماندانو د شورا طرحه هم د اساسي قانون خلاف بللې ده.

درې اونۍ وړاندې سترې محکمې پرېکړه وکړه چې له مخې يې ولسمشر غني د راتلونکي ولسمشر تر ټاکل کېدو پورې په خپل ځای پاتې کېږي. د ولسمشرۍ نوماندانو پخوا هم د سترې محکمې دغه حکم غندلی و. ټاکل شوې چې راتلونکې ولسمشريزې ټاکنې د تلې مياشتې په شپږمه نېټه ترسره شي او تر هغه به ولسمشر غني د دولت چارې اداره کوي.

## له افغانستان سره د امريکا د متحده ايالتونو پر مرستو بيا کتنه کېږي




د امريکا د بهرنيو چارو وزارت مرستياله الېس ويلز يو ځل بيا د افغان حکومت له مشرانو سره گورې. د اجرايه رياست مرستيال وياند فريدون خوځون ازادي راډيو ته ويلي، چې په دې ناسته کې چې له افغانستان سره د امريکا پر مرستو بيا کتنه کېږي.

نومړي ويلي: «ټاکل شوې چې په ارگ کې له افغانستان سره د امريکا د متحده ايالتونو د مرستو د مرور غونډه ترسره شي، چې د ملي وحدت حکومت مشران او امريکايي چارواکي به پکې برخه واخلي».

دا په داسې حال کې ده چې د مرکزي او جنوبي اسيا لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت مرستياله الېس ويلز د رواني اونۍ د يکشنبې په ورځ کابل ته راغلې او په کابل کې د امريکا سفارت د خپرې کړې اعلاميې پر بنسټ ټاکل شوې، چې مېرمن ويلز د حکومت له مشرانو او د مدني ټولنو له استازو سره وگورې.

ويلز له دې وړاندې هم د ولسمشر غني او اجرايه رييس په گډون، له ځينو افغان چارواکو سره کتلې دي. ارگ په يوه اعلاميه کې ويلي، چې ويلز د يکشنبې په ماښام له ولسمشر محمد اشرف غني سره وليدل او دواړو لورو د سولې د پروسې، د سولې مشورتي لويې جرگې په پايلو، د ټاکنو په خپل وخت ترسره کېدو او د امريکا د ملکي مرستو پر بيا کتنې خبرې کړې دي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت مرستياله په داسې حال کې افغانستان ته سفر کوي، چې د افغان سولې لپاره د هغه هېواد ځانگړي استازي زلمي خليلزاد سولې ته د هڅولو په موخه، تر اوسه له طالب استازو سره شپږ پړاوه خبرې کړې دي.

بلخوا د نړيوالو اړيکو افغان کارپوهان وايي، په اوسنيو شرايطو کې افغانستان ته د ويلز سفر دوه پيغامه لېږدوي.

د نړيوالو چارو کارپوه انتظار خادم په دې اړه ويلي: «لومړی دا چې امريکا به بيا هم د افغان حکومت تر څنگ ولاړه وي او دويم طالبانو ته دا پيغام ورکوي چې سوله زموږ جدي ماموريت دی او که نتيجه نه ورکوي، انتخابات بل څه دي چې لومړيتوب به ورکړل شي او سوله به وروستی گام وي».

## ولايتي شورا: د ننگرهار ولايتي اداره له موږ سره پر امنيتي موضوعاتو مشوره نه کوي

د ننگرهار ولايتي شورا ويلي، د دغه ولايت امنيتي وضعيت ورځ تر بلې د خرابېدو په حال کې دی؛ خو ولايتي اداره او امنيتي ارگانونه يې هېڅ غم نه خوري.

دوی ويلي، هدفي وژنې، چاودنې او په ولسواليو کې د وسله والو د جگړو له امله د خلکو بې ځايه کېدل اوج ته رسېدلي او هره ورځ يوه امنيتي پېښه رامنځته کېږي.

د ولايتي شورا رييس او ځينو غړو د يو خبري کنفرانس پر مهال دغه شکايت هم کړی، چې ولايتي اداره ورسره په هېڅ مهمه مسئله کې مشوره نه کوي.

خو د ننگرهار والي ويلي، د شورا رييس وروسته له هغې د امنيتي وضعيت په اړه اندېښنه شريکه کړې، چې د نوي امنيه قوماندان په راتگ سره په حوزو او ماموريتونو کې د وکيلانو په واسطو مقرر شوي کسان تغير او تبديل شول.

د ننگرهار د ولايتي شورا رييس احمدعلي حضرت يوه خبري کنفرانس ته ويلي، د دغه ولايت امنيتي وضعيت تر بل هر وخت خراب شوی دی.

هغه ويلي، هره ورځ په ښار کې يا چاودنه کېږي او يا خلک ترور کېږي او دغه راز په خوږيانو ولسوالۍ کې د داعش او طالب وسله والو د نښتو له امله زرگونه کورنۍ کډوالې شوې، خو ولايتي اداره يې هېڅ غم نه خوري.

نومړي دغه راز ويلي چې ولايتي اداره او امنيتي ارگانونه د دوی هېڅ مشورې ته غوږ نه نيسي او په هېڅ کار کې ورسره همغږي نه کوي.

د شورا غړي اجمل عمر هم په تېرو دريو مياشتو کې د ننگرهار امنيت خراب ياد کړی او ټينگار يې کړی چې ولايتي اداره بايد د دې ستونزې د حل لپاره چټک گامونه پورته کړي.



خو د ننگرهار والي شاه محمود مياخېل بيا ويلي، د امنيتي وضعيت په اړه اندېښنه د ټولې شورا نه، بلکې د شورا د رييس ده چې د هغه دې شخصي گټو د خطر له امله يې څرگنده کړې ده.

هغه ويلي، د نوي امنيه قوماندان په راتگ سره په امنيتي ليکو کې ډېر بدلون راغلی او هغه کسان تغير او تبديل شوي چې د وکيلانو په واسطو له کلونو راهيسې مقرر شوي دي.

## برېټانيا:
## ښايي ايران او امريکا له يو بل سره په جگړه کې ښکېل شي




په داسې حال کې چې د تهران او واشنگټن اړيکې تر بل هر وخت ترينگلې شوې دي، برېټانيا په فارس خليج کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د جگړې د پيلېدو په اړه خبرداری ورکړی دی. د برېټانيا د بهرنيو چارو وزير جرمي هانټ په فارس خليج کې روان بحراني وضعيت ته په کتو خبرداری ورکړی، چې کېدای شي ايران او امريکا له يو بل سره په جگړه کې ښکېل شي.

هانټ دغه خبرداری په بروکسل کې د ايران د مسئلې په اړه، د اروپايي ټولنې د بهرنيو چارو وزيرانو تر غونډې مخکې ورکړی دی.

نومړي ويلي: «زه فکر کوم په دې اړه رښتينې اندېښنه موجوده ده، چې دا غير عمدي وضعيت کېدای شي له هغه حالته هم چې موږ يې وېره لرو، لا نور جدي شي».

د برېټانيا د بهرنيو چارو وزير زياته کړې، موږ ټول بايد يقيني کړو چې ايران بيا د اټومي وسلو د جوړولو لار خپله نه کړي.

د هغه په خبره، که ايران اټومي وسلې جوړې کړي، نو گاونډيان به يې هم د دې هڅه وکړي څو دغه ډول وسلې ترلاسه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د برېټانيا، فرانسې او جرمنې په گډون، چين او روسيه هغه هېوادونه دي چې له ايران سره يې د ۲۰۱۵ ز کال اټومي هوکړه لاسليک کړې، خو د امريکا متحده ايالتونه د تېر زېږديز کال په جون مياشت کې له دې هوکړې ووتل.

امريکا په دې وروستيو کې ويلي چې د ايران له لوري د ممکنه گواښونو د مقابلې لپاره، په خليج کې خپل پوځي ځواک زياتوي او د همدې لپاره يې د ابراهم لېنکن په نوم الوتکې لېږدوونکې جنگي بېړۍ او B52 بم غورځوونکې الوتکې هم خليج ته استولې دي.

بل پلو امريکايي ورځپاڼې نيويارک ټايمز، د ځينو امريکايي چارواکو په حواله ويلي، چې سپينه ماڼۍ پر داسې پوځي انتخابونو غور کوي، چې له مخې يې ښايي منځنی ختيځ ته يو لک او شل زره سرتېري واستول شي.

امريکا وايي، دغه گام د ايران له خوا پر امريکايي ځواکونو د بريد او يا د اټومي وسلو د جوړولو لپاره د ايران د هڅې د مخنيوي لپاره پورته کېږي.

د يادو سرچينو په خبره، د امريکا سرپرست دفاع وزير پاتريک شاناهان دغه پلان د ولسمشر ټرمپ د امنيتي سلاکارانو په وروستۍ غونډه کې وړاندې کړی دی.

ايران بيا گواښ کړی، که پر دغه هېواد نور بنديزونه او فشارونه راوړل شي، نو د ۲۰۱۵ زېږديز کال د اټومي هوکړې ځينې برخې به عملي نه کړي.


د ايران ولسمشر حسن روحاني تېره اونۍ خبرداری ورکړ، چې که پر هېواد يې نور بنديزونه ولگول شي، نو دوی به بيا په لويه اندازه د يورانيمو غني کولو ته مخه کړي.

## د کتاب خبرې

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
- ژباړن: میراحمد یاد

### لسم څپرکی
### عمل مو عادت کړئ





دربیمه قضیه: سید خپل کاروبار پیلاوه خو ...
د سید په کیسه کې به دا وګورو چې انسان د ښو او مناسبو حالاتو په تمه لاس تر زنې کېني، نو څه ورسره کېږي؟
له دویمې نړیوالې جګړې وروسته سید د پُسټ اداري په ګمرکي څانګه کې دنده واخیسته. کار یې خوښېده، خو پنځه کاله وروسته کاري بندیزونو، اوږدو کاري ساعتونو، لږ عاید او د مراتبو د لړۍ له امله، له کاره زړه ماتی شو.
بیا ورسره یوه مفکوره پیدا شوه. سید په کمرګي چارو کې بلد و او واردات یې کولای شول، نو ویل یې دا به ښه وي چې خپل کاروبار پیل کړي، ارزانه ډالۍ او د ماشومانو د لوبو وسایلو را وارد کړي. سید داسې ډېر خلک پېژندل چې د وارداتو په چارو کې د ده هومره تکړه نه وو.
خو دا لس کاله وشو چې سید پرېکړه کړې او اوس هم لا په ګمرک کې وظیفه لري.
ولې؟ ځکه چې سید به کله د کار پیلولو زړه وکړ، نو یوه ستونزه به ورته پیدا شوه او د ده مخه به یې ډب کړه. د پیسو کمی، اقتصادي رکود، نوي ماشومان، تېټ عاید او مالي تأمین هغه دلایل او بهانې وې چې د ده د سوداګرۍ او بدلون مخه یې ډب کوله.
خو رښتیا خبره دا ده چې سید ځان غیرفعال کړی و. ده ویل چې د کار له پیله مخکې یې حالت بیخي مساعد او ایډیال شي، خو دا چې حالات نه ایډیال کېږي، نو سید هم هېڅکله کار پیل نه کړ.
دلته دوه خبرې دي چې تاسې پرې ایډیال حالت ته له انتظاره ځان ژغورلای شئ:
۱. د راتلونکو خنډونو او سختیو په تمه اوسئ. هر اقدام کې ستونزې، سختۍ، خطرونه او خنډونه وي. ښه تاسې داسې وګڼئ چې له کابله جلال اباد ته ځئ، خو دېته په تمه یئ چې د موټر خرابېدو، ګڼې ګوڼې، امنیتي اندېښنو، لارې بندېدو، هوا حالاتو او نور خطرونه بیخي له منځه لاړ شي، که په هم دې تمه ناست یئ، نو هېڅکله به لاړ نه شئ. د سفر لپاره ښه پلان دا دی چې نقشه وګورئ، لاره پیدا کړئ، موټر یو ځل له نظره تېر کړئ او له هرې ممکنې لارې هڅه وکړئ چې د خطرونو مخه ونیسئ.
۲. هڅه وکړئ چې ستونزې او سختۍ د رامنځته کېدو پر وخت حل کړئ. بریالی انسان هغه نه دی چې ستونزې او خطرونه له وړاندې دفع کړي، بلکې بریالی هغه دی چې له ستونزو او خطرونو سره مخ شي او حللاره ورته پیدا کړي. نو د واده، کاروبار یا نورو کارونو په پیل کې پر خدای توکل کوئ او ورځئ.
موږ ټولو ستونزو او خطرونو ته ځان نه شو بېمه کولای.
د خپلو پرېکړو د عملي کولو لپاره هڅه وکړئ. پنځه- شپږ کاله مخکې راسره یوه پروفیسور پر خپل راتلونکي کتاب خبرې کولې، ده غوښتل کتاب ولیکي او د کتاب موضوع د وروستۍ لسیزې د یوې جنجالي څېرې ژوند و. د موضوع په اړه د پروفیسور نظر او لیدلوری جالب او رغنده و. په خپله خبره پوهېده او د وینا مهارت یې هم درلود. که دا کتاب چاپ شوی وی، نو دې سړي ته یې د زړه د ډاډ تر څنګ پیسې او شهرت هم ګټل.
تېر پسرلی مې هغه پروفیسور بیا ولید. ما ورته وویل چې کتاب د ختم کړ که نه؟ زما نیت بد نه و، خو د هغه ورغلی ټپ مې بیا تازه کړ.
کتاب یې نه و لیکلی ... یوه شېبه ځان سره په لانجه و. ته وا ځان سره یې لانجه ده چې د کتاب د نه لیکلو لامل راته وښیي که نه. بلاخره یې راته وویل چې ډېر بوخت یم، مسئولیتونه ډېر دي او دا رانه پاتې شو.
رښتیا خبره دا ده چې پروفیسور دا فکر د خپل ذهن په یوه کونج کې خښ کړی و. ذهن کې یې منفي افکار روزلي وو. هغه ستونزې او کړاونه یې را یاد کړل، چې په دې لاره یې باید ګاللي وی، له دې سره یې د خپلې ماتې ځینې نور دلایل هم ملګري کړي وو.
زموږ فکرونه ډېر ارزښت لري. په دې موضوع کې به نه تېروځو. د هر څه جوړولو او رامنځته کولو لپاره مناسبه مفکوره پکار ده. کوم انسان چې مفکوره نه لري، بری ترې تښتي.
خو په دې اړه به هم نه تېروځو: چې یوازې مفکوره بس ده. زموږ ذهن ته چې د کاروبار د پراختیا لپاره کوم جریانونه راځي، یوازې د عملي کېدو پر وخت ارزښت پیدا کوي.
خلک د مفکورو له عملي کولو وېرېږي او له دې امله هره ورځ زرګونه خلک خپلې مفکورې خاورې کوي. خو دېته نه ګوري چې د دې مفکورو خاورې کول به دوی ډېر زیات نارامه کړي.
دا دوه خبرې په خپل ذهن کې کېنوئ:
لومړۍ، پر مفکورو کار وکړئ او ارزښت ورکړئ. که ستاسې نظریات هر څومره ښه او جالب وي، چې عملي نه شي هېڅ ارزښت نه لري.
دویمه، پر مفکورو کار وکړئ او ذهناً ارام شئ.
یو کس وایي زه دې خبرې ته ډېر خپه کېږم چې یو څوک وایي: داسې هم کېدای شوه! هره ورځ زیاتره خلک داسې خبرې کوي: (که مې هغه وخت دا کار پیل کړی اوس به مې ساعت پکې تېر وی.) یا دا چې: (زړه مې وایي که مې دا کار کړی وی، اوس پکې بریالی کېدم، کاشکې مې کړی وی.)
ښه فکر چې عملي نه شي، انسان روحاً ځوروي او په ښه فکر کار بیا انسان ته رواني ارامتیا ورکوي.
نو که تاسې ښه مفکوره لرئ څه ته ګورئ؟ کار ورته وکړئ!

**دوام لري...**

# د سړکونو انجنيري

اکسوس کتابپلورنځی




څرنګه چې سړکونه د یو هېواد د اقتصادي، کلتوري، اجتماعي او پوځي پرمختګونو لوی لامل ګڼل کېږي، ځکه خو هر هېواد دا کوښښ کوي، څو داسې سړکونه جوړ کړي، چې له یوې خوا اقتصادي او له بلې خوا د مسافرو د تګ راتګ او د اموالو د انتقال په وخت کې له ستونزو سره مخ نه شي. د سړکونو په جوړونه کې زیاتې انساني او مالي قوې ته اړتیا لیدل کېږي، نو ځکه د ډیزاین په وخت کې باید له پوره دقت او ځیرکتیا څخه کار واخیستل شي.
د لګښتونو ترڅنګ، د سړکونو په جوړونه کې دا غوښتنه هم کېږي، چې سړک باید د خپل ډیزاین عمر پوره کړي، څو یې د لښګتونو په اندازه ټولنې ته ګټه ورسېږي. د سړکونو په جوړونه کې د سړک د ډیزاین ترڅنګ، د سړک جوړونې د شرکت تجربه هم مهمه ده، چې د هغه پر کیفیت مستقیم اغېز کوي.
هغه سړکونه چې په افغانستان کې جوړ شوي دي، له یوې خوا د هغه ترمیم ته پاملرنه نه کېږي او له بلې خوا د جنګونو له ناخوالو سره هم مخ دي، چې نه شي کولای خپل عمر پوره کړي. د دې ترڅنګ، د ډیزاین او جوړونې په برخه کې د تجربې او استعدادونو نشتوالی هم د ستونزو د رامنځ ته کېدو سبب شوي ده.
دغو ځانګړنو ته په کتو، زموږ په هېواد کې دغه اصلونه یا په نظر کې نه نیول کېږي او یا هم بیخي توجه نه ورته کېږي او په دې برخه کې تجربه هم ډېره کمه ده. لکه د ځینو لویو هوایي ډګرونو ډیزاین او جوړونه، د تونلونو ډیزاین او جوړونه او ځینې نور یې بېخي له وسه وتلې خبره ده.
نو د دې لپاره چې ځینو ستونزو ته مو حل او پوښتنو ته مو ځواب پیدا کړی وي، دغه کتاب په اړوند برخه کې درسره یو څه مرسته کولای شي.
دغه کتاب ټولټال د لسو څپرکو په درلودو سره، په ۳۴۲ مخونو کې لیکل شوی دی، د کتاب تر ټولو ښه ځانګړنه دا ده، چې د لیکوال تجربې ورسره مل دي.
مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د تدریس کلیدي عناصر | محمد اسماعیل ستانکزی | ۲۲۰؋ |
| ۲ | زما ژوند د هوا په سټرېو څپوکې | ډګر جنرال قهرمان عبدالوهاب وردګ پیوت | ۱۰۰؋ |
| ۳ | عمومي معلومات لومړی ټوک دوهم ټوک | یورګ پیلاوه | ۳۰۰؋ |
| ٤ | د عادت ځواک | چارلیز دوهیګ | ۲۵۰؋ |
| ۵ | د وخت ارزښت او ساتنه | عبدالفتاح ابو غده | ۱۵۰؋ |
| ٦ | دا خاوره او د خلک | ډاکټر خالق یار | ۲۳۰؋ |
| ۷ | انقلاب فکری | عالبشیر پژواک | ۱۳۰؋ |
| ۸ | د اساسی حقوقو عمومي اصول | پوهنوال بشارت الله شینواری | ۲۲۰؋ |
| ۹ | تاریخ مرصع | افضل خان | ۸۰۰؋ |
| ۱۰ | پښتانه د تاریخ په رڼا کښې | میا بهادرشاه ظفر کاکا خیل | ۸۵۰؋ |
| ۱۱ | د سرکونو انجنیري | محمد نور نعیمي | ۲۵۰؋ |
| ۱۲ | د افغانستان کې د عنعنوي جرګو نن او پرون | عبدالجلیل وجدي | ۱۵۰؋ |
| ۱۳ | اساسات آشنایی | پوهنوال نثاراحمد کوهستانی | ۲۰۰؋ |
| ۱٤ | اخلاق پروتستان و روح سرمایه داری | ماکس وبو | ۱۲۰؋ |
| ۱۵ | د اړیکو اساسات | پوهندوی محمدخان نیازی | ۲۳۰؋ |
| ۱٦ | اصول و فنون مذاکره ی موفق | رسول خان امین | ۱٦۰؋ |
| ۱۷ | مختصر تاریخ مطابع و جرید افغانستان | عزیزالدین وکیلی پوپلزایی | ۵۰۰؋ |
| ۱۸ | دستار نامه | ډاکټر عبدالحکیم شاه ختک | ٤۸۰؋ |
| ۱۹ | د افغان او انګریز دویمه جګړه لومړی او دویم ټوک | برید جنرال لیونید نیکو لاېویچ سوبولیف | ٤۸۰؋ |
| ۲۰ | د طاهر اثر اپریدي داستاني کلیات | د لعل پاچا ازمون او محمد ارشد خان میک په زیار | ۵۰۰؋ |
| ۲۱ | پینځه منظومې | عبدالغفور لیوال | ٤۸۰؋ |
| ۲۲ | Effortless English Learn to Speak english like a Native | A.J.HOge | ۱۵۰؋ |
| ۲۳ | The Subtle Art of Not Giving A Fuck | mark Manson | ۱۵۰؋ |
| ۲٤ | The Forty Rules Of Love | Elif Shafak | ۲۲۰؋ |
| ۲۵ | Awaken the Giant Within | Anthony Robbins | ۲۸۰؋ |
| ۲٦ | The 5 Love Languages | Gray Chapman | ۱۵۰؋ |
| ۲۷ | حقاپالونکي‌صحابه‌اوصحابیات | قیام الدین کشاف | ۲۵۰؋ |
| ۲۸ | عقل و اعتقاد دینی در آمدی بر فلسفه دین | مایکل پترسون | ۱۵۰؋ |
| ۲۹ | د امام ابو حنیفه و صیت | محمد وزیر حامد | ۸۰؋ |
| ۳۰ | اخلاقي کنایې | ډاکټر نثار احمد صمد واصفی | ۱۵۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۹ |
| € | ۸۸,۵۰ |
| Rp. | ٥٤٧ |
| ₹ | ۱۲۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۱,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# ځینې رایجې تېروتنې مو اصلاح کړئ!

ژباړه: نور احمد فضلي

زموږ په ژوند کې ځینې تېروتنې بیا بیا تکرارېږي، چې د اصلاح وړ دي. خو که ځینې ستونزې او تېروتنې تر خپل حد زیاتې صرفنظر کړل شي، پر جدي ستونزو بدلېږي. د دې لپاره غوره ده چې همدا نن د مکرراتو له تکراره پرهېز وکړئ. لاندې ځینې رایجې تېروتنې او ور څخه د پرهېز حللارې توصیه کوو:

**۱ـ د پلان نه لرل او بې تفاوتي**

ولې ځینې کسان سره له ډېر میل او علاقمندۍ، بې پلانه او بې تفاوته کېږي؟ شاید تصور وکړل شي چې بې پلانه او بې تفاوته کسان تنبل او لټ دي او د کارونو ځنډول یې د بېلابېلو امورو له ترسره کولو سره ناعلاقمندي او بې میلي وي. خو دا هرڅه د حقیقت خلاف دي. کوم کسان چې د نن کارونه سبا ته پرېږدي، تر ډېره بېرته خپل کارونه ترسره کوي هم؛ خو په وروستیو لحظو کې چې بیا له زیات فشار سره مخ وي.

**۲- مطالعه نه کول**

مجازي نړۍ او انټرنېټي فضا له ډېرو افرادو څخه خپل اختیار سلب کړی دی. دغه افراد د خپل ورځني ژوند زیاته او مهمه برخه په بېلابېلو کارونو او بې ګټې نړۍ کې تېروي او په پای کې هېڅ عاید هم په لاس نه ورځي. لکه مجازي نړۍ چې د مطالعې، د حضوري لیدو کاتو او حتی له خپلوانو او دوستانو سره د یوې لنډې ټلیفوني مکالمې وخت له ډېرو افرادو څخه سلب کړی دی.

**۳- بد غذايي عادتونه**

ناسالم او زیات پُرکالري خوراکونه د ټولنې د زیاتو کسانو د چاغېدو او روغتیا د زیانمنېدو سبب شوي دي. وازده لرونکي، پُرکالري، سره کړي، فاسټ فوډ خوراکونه او له خپل سنتي غذايي کلتور څخه لرې کېدل، نن سبا د ډېرو کسانو د ژوند سبک ګرځېدلی دی. د غذا له دغه سبک څخه زیاته استفاده ستاسې صحت له خطر سره مخ کوي او پر جسماني روغتیا سربېره مو، له ظاهره عدم رضایت او ورسره سم د روحي سلامتیا خطر هم په وجود راوړي.

**۴- د مالي چارو لپاره پلان نه لرل او بې ځایه لګښت کول**

لګښت کول یو له هغو رفتاري سبکونو څخه دی، چې په دغو څو وروستیو کلونو کې د خورا زیاتو کسانو په مینځ کې یې رواج موندلی دی. که دغه رفتار په صحیح ډول مدیریت نه کړل شي، له ځنډ پرته به د فرد او ورپسې د کورنۍ لپاره بد عواقب ولري. نو همېشه کوشش وکړئ چې له خپل مالي توان سره سم پلان جوړ کړئ او تر خپلې اړتیا زیات لګښت ونه کړئ. حتی که داسې کسان وي هم چې ستاسې مالي ملاتړ کوي، بیا هم دغه کار مه کوئ. ولې چې بالاخره تاسې په یوه مصرف ګرا/زیات لګښت کوونکي کس بدلېږئ، چې پر مالي اوضاع کنټرول نه لرئ او که مالي حمایت درڅخه واخیستل شي، نو بیا د ماتې او ناهیلۍ احساس کوئ.

**۵- له نورو د مرستې تمه نه کوئ**

سمه ده چې خپلواک اوسېدل هر وخت ډېر ارزښتمن دي، خو په خاصو او بحراني حالاتو کې له نورو د مرستې غوښتل هم د خپلواک اوسېدو یوه برخه ده. متاسفانه ځینې کسان د دې لپاره چې خپل پېټی یې د نورو پر اوږو نه وي بار کړی او یا د نورو د قضاوت له وېرې او یا په دې باور چې خپله کولای شي ټول مسایل رفعه او حل کړي، له نورو د مرستې غوښتنه نه کوي او پر ځان او خپلو وړتیاوو له دغه افراطي باور سره، د ستونزو او مشکلاتو د دقیقې ارزیابۍ او بېلابېلو حللارو د پیدا کولو مانع ګرځي.

**۵- له فردي وړتیاوو بې پروایي**

د انسان لپاره تر هر ډول پوهې دمخه، ځان پېژندنه ډېره اړینه او ګټوره ده. له ځان پېژندنې پرته د انسان لپاره هېڅ شی هم پېژاند نه دی او هېڅ پلان به ورته ګټور او مؤثر نه وي. شاید د ډېرو کسانو ستونزه دا وي، چې خپلو وړتیاوو او استعدادونو ته له پاملرنې پرته یې ژوند روان کړی وي او همدا موضوع د دې سبب کېږي چې له ژوند څخه یې د رضایت کچه په شدت سره کمېږي.

**٦- ټولنیز فشار**

ډېری کسان هغه کار تر سره کوي چې د ټولنې د فشار، د شاوخوا کسانو هیلو او رسنیو پر اساس ځان د هغه ترسره کولو ته اړ ویني. دا مه هېروئ چې ډلییز فعالیتونه دا ښه چانس د ټولو لپاره چمتو کوي، څو خورا ښې تجربې ترلاسه کړي او ډېر زیات ښه ملګري او دوستان پیدا کړي؛ نو کوشش وکړئ چې د خپلو شاوخوا کسانو او د نورو د تمو پر اساس پر مخ ولاړ نه شئ. خپله اوسئ او د خپلو اړتیاوو له مخې عمل وکړئ.

**۷- په نوي کال کې د سالم ژوند لپاره د تګلارې نه لرل**

ډېری کسان د نوي کال په پیل کې زیات تصمیمونه نیسي او تر دې چې څو ورځې پرله پسې کوشش کوي، چې د یادو تصمیماتو له مخې حرکت وکړي. شاید تاسې هم تر اوسه څو څو واري ورته کار ترسره کړی وي، خو بالاخره مو ماتې خوړلې یا تر څو ورځو وروسته مو هېر شوي وي، چې غوښتل مو کوم کار ترسره کړی. خو همدا نن ورځ/میاشت او سږ کال کېدلای شي، چې متفاوت وي. خپل وزرونه وغوړوئ او پرواز شروع کړئ، خپل ذهن ته وده ورکړئ او د خپل ژوند لوړ او مهم عادتونه جوړ کړئ. د خپلو خوښو عادتونو په څنګ کې چې لری یې، کوشش وکړئ چې په دغه نوي کال کې ځینې هغه ناخوښ عادتونه مو اصلاح کړئ، چې تاسې ترې ځورېږئ او لاندې ټکو ته پاملرنه وکړئ:

- **کافي او پر وخت خوب وکړئ**

ځینې کسان خوب ته پوره توجه نه کوي، چې دا بیا د دوی همېشنۍ ستړیا، خستګۍ، د حافظې افت او زیاتو بدو کړنو باعث ګرځي او د دوی د ذهن او بدن عملکرد له جدي زیان سره مخ کوي. نو تل کوشش کوئ چې په ۲۴ ساعتونو کې لږترلږه اته ساعته خوب وکړئ. د بدن بیولوژیک ساعت مو تنظیم کړئ او ځان ته په ارزښت قایل شئ، چې پر ټاکلي ساعت هره شپه بسترې ته د خوب لپاره ولاړ شئ او له ناوخته تلو او بیا د ورځې له لوري له جبراني خوب کولو څخه ډډه وکړئ.

- **خپلې تغذیې ته مو پام وکړئ**

مناسبه او د تعادل په حد کې غذا وخورئ او له پُرکالري او غیر ګټورې غذا څخه چې یوازې ستاسې وزن اضافه کوي؛ ډډه وکړئ. په خپل غذايي رژیم کې مو د زیاتو اوبو څښل، لبنیات، مېوه او سبزیجات اضافه کړئ.

- **په منظم ډول ورزش وکړئ**

بدني فعالیتونه ذهن او جسم پیاوړی کوي. هغه کسان چې په منظم ډول ورزش کوي، سالم بدن او ذهن لري. د خپل ژوند د چاپېریال له ورزشي امکاناتو خبر ولرئ او د ژوند په اوږدو کې مو ورزش کول د ځان عادت وګرځوئ.

- **هر وخت مو سټرېس او فشار مدیریت کړئ**

د خپلو ټولنیزو فعالیتونو او تحصیلي ژوند ترمنځ مو تعادل وساتئ. کوشش وکړئ چې د خپلو وړتیاوو او ظرفیتونو مطابق مسوولیت واخلئ، چې بیا وکولای شئ په ښه ډول هغه ترسره کړئ. هر کله چې له ستونزې سره مخ شوئ، د کورنۍ او نږدې دوستانو په مرستې او حمایت مو تکیه وکړئ او کوشش مه کوئ چې لویې ستونزې په یوازې ځان حل کړئ. د سټرېس مدیریت کول زده کړئ او مه پرېږدئ چې سټریس درباندې غلبه وکړي.


- **معنویت مه هېروئ**

د لا زیات سکون او ارامتیا لپاره معنوي اړیکې مه هېروئ. معنوي اړیکې د خدای ج له بې نهایي قدرت څخه مرسته غوښتل دي. انسان د دعا او له خدای ج سره په راز و نیاز کولو سره سکون حاصلوي او هیلې بې غوړېږي.

- **له شاوخوا کسانو مو مرسته وغواړئ**

له نورو مرسته او کمک غوښتل د کمزورۍ او بې عرضګۍ صفت او نښانه نه ده. یوازې په دې مانا دي، چې موږ په یوه مشخص وخت کې او د یوه خاص مشکل د حل لپاره، له نورو څخه د مرستې غوښتلو ته اړ یو او دا ښیي، چې موږ صحیح او منطقي پوهه لرو چې بشپړ نه یو او باید د ځینو امورو لپاره له نورو مرسته او کمک وغواړو.

# جان باس: طالبان لاهم له افغان حکومت سره د خبرو لپاره لېوال نه دي



په کابل کې د امریکا سفیر جان باس ویلي، طالبانو لا هم له افغان حکومت او افغان ټولنې سره د هغو مسایلو په اړه تر اوسه خبرو ته جدیت نه دی ښودلی، چې یوازې افغانان پرې په خپلو کې پرېکړه کولای شي.

هغه ویلي، له طالبانو سره د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په وروستیو خبرو کې یوازې په دې تړاو یو څه پرمختګ شوی، چې افغان خاوره به د نورو هېوادونو پر ضد نه کارېږي.

باس زیاته کړې: «له بده مرغه موږ په نورو مواردو کې چې افغانان یې غوښتونکي وو، لکه د تاوتریخوالي د پای ته رسېدو یا د اوربند په اړه پرمختګ نه دی کړی. دې ته تر اوسه سترګې په لاره یو چې طالبان په جدیت سره له افغان حکومت او افغان ټولنې سره خبرو ته چمتو شي، څو هغه مسایل حل کړي چې یوازې افغانان یې په خپلو کې په اړه پرېکړه کولای شي».

بلخوا د سیاسي چارو افغان شنونکي بیا وایي، چې طالبان هڅه کوي، څو په دغو خبرو کې د امریکا له بېړې د خپل ځان په ګټه امتیازات ترلاسه کړي.

د سیاسي چارو کارپوه نصرالله ستانکزي ویلي: «طالبانو د امریکا هغه عجله او شتاب احساس کړی، چې امریکایان یې کاروي. په مخامخ خبرو کې غواړي له امریکا څخه امتیازات ترلاسه کړي او په پای کې له افغان حکومت سره خبرو ته چمتو شي».

په کابل کې د امریکا سفیر له ازادي راډیو سره په خبرو کې ویلي، چې هیله لري له افغان حکومت او افغانانو سره یې هېواد وروسته له هغه هم ښې اړیکې ولري، چې په افغانستان کې سوله رامنځته شي.

خو هغه زیاته کړې چې که په راتلونکي کې افغانستان د امریکا له حکومته وغواړي، چې خپل ملاتړ ته دوام ورکړي، افغان حکومت باید له نړیوالو معیارونو سره سم بنیادي بشري حقونه خوندي وساتي.

هغه له ممکنه سولې وروسته د خپل هېواد د مرستو په اړه ویلي: «پرته له شکه دا چې د بشري مرستو ورهاخوا امریکا څومره مرسته کولای شي، دا به د موافقې په شرایطو او په دې پورې اړه ولري، چې طالبان بېرته د ټولنې برخه شي. هغه ټولنه چې د نورو هېوادونو د پراخې ټولنې برخه وي، چې د یو بل خپلواکۍ ته درناوی ولري او له یو بل سره ګډ کار وکړي، څو یو بل ته خطر پېښ نه کړي».

دا په داسې حال کې ده چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له طالبانو سره د شپږم پړاو خبرو په اړه د تېرې پنجشنبې په ورځ پر خپله ټویټر پاڼه د خبرو سرعت ناکافي وباله او زیاته یې کړه چې په خبرو کې چټک پرمختګ ته اړتیا ده، څو په افغانستان کې د تاوتریخوالي کچه راټیټه شي.

د افغان سولې په تړاو جان باس دغه څرګندونې داسې مهال کوي، چې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه اداري یا یوناما وړمه ورځ په یوه اعلامیه کې په ټول افغانستان کې د روژې په لومړۍ اونۍ کې پر ملکیانو د تاوتریخوالي زیاتېدو د اغېز په اړه اندېښنه څرګنده کړه.

یوناما دغه راز د جګړې پر ښکېلو لور غږ وکړ، چې د روژې په میاشت کې دې اوربند وکړي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د غویي ۲۵مه | د ۲۰۱۹ د مي ۱۵مه | دریم کال | ۳۷٤یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۳۰ | ۳۲ | ۳۵ | ۳٤ |
| ۱۳ | ۱٦ | ۲۰ | ۲۰ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۳ | لمر ختل ۰٤:۵۲ | ماسپښین ۱۱:۵۰ | مازیګر ۰۳:۳٦ | ماښام ۰٦:۵۲ | ماخوستن ۰۸:۲٦

## نړۍ




## ده ها تن از معلمان برخی مکاتب هرات تهدید به اعتصاب کاری کردند



ده ها تن از معلمان برخی مکاتب هرات، دیروز در یک گردهمایی گفتند که اگر معاش آنها بلند نرود، سر از پنجشنبه هفتهٔ جاری، دست به اعتصاب کاری می زنند.

سید رسول یک تن از معلمان، در این گردهمایی در شهر هرات، به آژانس خبری پژواک گفته است: «ما امروز اینجا جمع شدیم تا صدای خود را به گوش دولتمردان برسانیم، من خودم هشت نفر نانخور دارم و هفت هزار معاش می گیرم؛ همزمان کرایه خانه هم می دهم، با این هفت هزار کدام مشکل خوده رفع کنم؟»

معلمان دیگر در این گردهمایی نیز گفتند که هفت هزار افغانی معاش آنها، کفایت نیازمندی های شان را نمی کند و باید دولت معاش آنان را بلند ببرد.

آنها هشدار دادند که از پنجشنبهٔ هفته جاری، اعتصاب درسی شان را آغاز می کنند و اگر حکومت به خواست آنها توجه نکند، به اعتصاب خود ادامه می دهند.

درهمین حال، روح الله رئیس معارف هرات می پذیرد که معاش معلمان کم است؛ اما می گوید که پیش از این نیز این خواست معلمان را با وزارت معارف شریک ساخته و وزارت معارف، موضوع را با رئیس جمهور در میان گذاشته است.

به گفته او؛ علیرغم اینکه با در نظرداشت کمبود بودجه، افزایش معاش معلمان مشکل است؛ اما با آن هم تلاش‌ها برای افزایش معاش معلمین، از سوی وزارت معارف جریان دارد.


## رابطه عالم اسلامي ته اړوند، د انکشاف او پرمختګ لپاره د نړیوالې خیریه ټولنې له لارې پر زرګونو اړو کورنیو مرستې وویشل شوې



رابطه عالم اسلامي ته اړوند، د انکشاف او پرمختګ لپاره د نړیوالې خیریه ټولنې(IORWD) له لوري، په لغمان او کابل کې تقریباً له ۹۷٦ پر زیاتو بېځایه شوو اړو کورنیو باندې، د روژه ماتي په نوم خوراکي توکي وویشل شول او هرې کورنۍ ته یې (لس کیلو اوړه، پنځه کیلو وریجې، درې کیلو بوره، درې کیلو لوبیا او درې لیتره غوړي) ورکړل. دغه خیریه ټولنه د نورو خیریه کارونو او پروژو ترڅنګ، هر کال د رمضان په مبارکه میاشت کې د (روژه ماتي) په نوم، پر اړو کورنیو باندې خوراکي توکي وېشي، چې سږ کال هم د نوموړې ټولنې له لوري او د دې ټولنې د سرمنشي محترم ډاکټر محمدعبدالکریم العیسی او ډاکټر عبدالعزیز احمد سرحان په ځانګړې سپارښتنه، افغانستان په هغو هېوادونو کې شامل کړل شول او دا دې ټولنې ته اړوند د افغانستان دفتر او د دې ټولنې د مرکزي دفتر د استازي محترم ماجدالغامدي له لوري په روان ۱۴۴۰هـ.ق کال کې، پر اړو کورنیو باندې دغه مرستې وویشل شوې. پر اړو کورنیو باندې د خوراکي توکو د وېش دغه بهیر، په کابل کې د نوموړې ټولنې د کابل د دفتر له لوري، له ځینو دولتي ادارو په خاص ډول د مهاجرینو له محترم وزارت او لغمان ولایت له مقام سره په ګډ تفاهم او همکارۍ ترسره شو. د یادولو ده چې د کډوالو چارو وزیر محترم سیدحسین عالمي بلخي په افغانستان کې د سعودي عربستان سفیر محترم جاسم بن محمد الخالدي، د لغمان محترم والي محمد آصف ننګ او د دغه ولایت د کډوالو چارو رییس محترم انجنیر شاکرالله شاکر او د کډوالو چارو وزارت مشاور محترم حاجي حیات الله سباوون، د مرستو د وېش په بهیر کې برخه واخیسته او پر خپلو لاسونو یې بېوزله خلکو ته هغه مرستې، چې د نوموړې ټولنې لخوا تهیه شوې وې، تقسیم کړې. نوموړو د دې ټولنې له یادو مرستو څخه په منني، له دې ټولنې وغوښتل، څو په مختلفو برخو کې له راستنېدونکو او بېځایه شوو کورنیو سره خپلې مرستې جاري وساتي.

د افغانستان لپاره د دغه دفتر او ټولنې تنظیمونکي محترم ماجد سعید حمود الغامدي د څرګندونو له مخې، دغه ټولنه په نظر کې لري، څو په نږدې را تلونکې کې پر ځینو نورو بېځایه شوو کورنیو باندې، چې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې په خېمو کې ژوند کوي، کمپلې او خوراکي توکي وویشي او په نورو برخو کې هم خپل فعالیت زیات کړي. په پام کې ده چې دغه ټولنه به په نږدې راتلونکې کې د یو زیات شمېر ځاګانو کیندلو او جماعتونو جوړولو پروګرام هم پیل کړي.

## پوتین: روسیه به نړیوالو ګواښونو ته په کتو، خپله دفاعي وړتیا نوره هم لوړه کړي



د روسیې ولسمشر ویلادیمیرپوتین ویلي، هېواد یې باید شته نړیوالو ګواښونو ته په کتو، خپله دفاعي وړتیا نوره هم لوړه کړي.

نوموړي د دغه هېواد په دفاع وزارت کې یوې امنیتي غونډې ته ویلي: «موږ پوهېږو هغه وسلې چې اوسمهال یې په واک کې لرو، د نړۍ نور هېوادونه یې نه لري، خو دا هم باید له یاده ونه باسو چې نړیوال پیاوړي هېوادونه په دې هڅه کې دي، چې هر څومره ژر چې ممکن وي، دغه ډول وسلې ترلاسه کړي».

هغه پرته له دې چې د کوم هېواد نوم واخلي، ویلي چې ځینې نړیوال هېوادونه هڅه کوي، څو دغه ډول خطرناکې وسلې ترلاسه کړي، خو وړاندې له دې چې دغه ډول وسلې د دوی لاسته ولوېږي، موږ باید خپله دفاعي وړتیا نوره هم لوړه کړو، څو په راتلونکې کې د دغو وسلو له ممکنه ګواښونو څخه د خپل هېواد ساتنه وکړو.

نوموړي دغه راز ویلي، په نړیواله کچه د توغندیو وروستۍ ازموینې دا په ډاګه کوي، چې نړیوال قدرتونه په دې هڅه کې دي، څو خپلې دفاعي وړتیاوې نورې هم لوړې کړي، خو دوی لا هم په دې نه دي توانېدلي چې هغه وسلې ترلاسه کړي، کومې چې اوسمهال زموږ په واک کې دي.

پوتین ویلي: «موږ باید د ځمکنیو ځواکونو د وړتیاوو پر لوړولو سربېره، د خپل هوایي ځواک پیاوړتیا هم په پام کې ولرو. موږ به د s-۴۰۰ اوږد واټن ویشتونکو توغندیو په څېر نور پرمختللي سیستمونه هم جوړ کړو».